# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان


د تأسيس کال ۱۳۷۴ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۴۲۶ ګڼه / يکشنبه ۵ شوال المکرم ۱۴۴۵ هـ.ق / ۲۶ حمل ۱۴۰۳ هـ.ش / ۱۴ اپریل ۲۰۲۴ میلادي


## استقبال مردم پنجشیر از پیام عیدی رهبر امارت اسلامی افغانستان

پیام تبریکی عالیقدر میرالمؤمنین شیخ مولوی هبة الله ‹حفظه‌الله› که به‌مناسبت عید سعید فطر صادرشده است مورد استقبال باشندگان پنجشیر قرار گرفته است.رهبر امارت اسلامی، درپیام عیدی خود، درچارچوب شریعت اسلامی و منافع ملی، خواهان روابط حسنه با جهان شد و از شهروندان افغانستان خواست تا با اخوت و برادری، درکنار هم زنده گی کنند و به سوی وحدت و یک پارچه گی گام بردارند.مولانا نصرالله ملک‌زاده رئیس اطلاعات و فرهنگ پنجشیر می‌گوید: اداره آنان دوهزار نسخه پیام عیدی رهبر امارت اسلامی افغانستان را در سراسر پنجشیر تکثیر کرده است.محمد سعید یک باشنده ی پنجشیر، به آژانس باخترگفت که رهبر عالیقدر امارت اسلامی در پیامش نکات مهمی را در رابطه ی افغانستان با جهان ونیز، ایجاد همگرایی و وحدت ملی میان شهروندان کشور، مطرح کرده است.فضل احمدیکی دیگراز شهروند بازارک مرکز پنجشیر می گوید که همه شهروندان افغانستان باید به دقت به بیانات وپیام های رهبر امارت اسلامی افغانستان گوش دهند و برای بهروزی به آن عمل کنند.

## هند: افغانستان کې اهل هنودو ته د ځمکو ورګرځول مثبت اقدام دی

هند د افغانستان د سرپرست حکومت له لوري اهل هنود او سیکانو ته د هغوی د ځمکو ورګرځول مثبت اقدام یاد کړی دی. هندي رسنیو ویلي، دا څرګندونې پرون د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت ویاند رندیر جېسوال رسنیو سره په خبرو کې کړې دي. نوموړي دا څرګندونې داسې مهال کړي، چې په قطر کې د سرپرست حکومت د سیاسي دفتر مشر وایي، د ځمکو د غصب مخنیوي او د ځمکو د استرداد کمېسیون د افغان هندوانو او سېکانو د غصب شویو شتمنیو د خلاصون بهیر پیل کړی. نوموړي له یوې هندي رسنۍ سره په مرکه کې ویلي، دغه کمېسیون به هندوانو او سیکانو ته د دوی ټولې هغه شتمنۍ بېرته وسپاري چې د تېر حکومت پر مهال غصب شوې دي.



## هنیه:

## افغانان د آزادۍ د مبارزې مخکښان دي او موږ یې پلیوني یو



د هېواد د بهرنیو چارو وزارت سرپرست مولوي امیر خان متقي، د حماس غورځنګ د سیاسي دفتر له مشر اسماعیل هنیه سره ټلیفوني خبرې کړې دي.د افغانستان اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد، په خپلې رسمي ایکس پاڼې کې لیکلي دي: ”د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي، د حماس غورځنګ د سیاسي دفتر له مشر اسماعیل هنیه سره د نوموړي د اولادونو او کورنۍ د غړیو د شهادت د تسلیت په موخه ټلیفوني خبرې وکړې.“د مجاهد په وینا، په دې ټلیفوني مکالمه کې مولوي متقي، د حماس غورځنګ د سیاسي دفتر مشر ته د یادې غمیزې په اړه د تسلیت مراتب وړاندې کړي او د شهیدانو د شهادت د قبولیت دعا یې کړې ده.هغه دغه راز، ۳مخ

## هرات کې د معارف چوک د رغولو چارې بشپړې شوې

د هرات ولایت د لومړۍ او څلورمې ناحیې اړوند د معارف چوک د رغولو چارې بشپړې او پرانیستل شو.د باختر آژانس د خبر له مخې؛ دغه چوک د یاد ولایت ښاروالۍ په مالي ملاتړ د ۱.۵ میلیونه افغانیو په لګښت جوړ شوی، چې نن د یو شمېر دولتي مسوولینو په شتون کې پرانیستل شو.ورته مهال د هرات اوسېدونکي د یاد چوک په رغولو خوښي څرګندوي او له حکومت څخه د ورته نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه کوي.

### د کلیو، بیارغونې او پراختیا وزارت سرپرست:

## چین به د افغانستان له لارې د منځنۍ آسیا له هېوادونو سره ونښلېږي



د کلیو، بیارغونې او پراختیا وزارت سرپرست ملا محمد یونس اخندزاده په خپل کاري دفتر کې په افغانستان کې د چین له سفیر جاو شینګ او مل پلاوي سره وکتل. په دې کتنه کې د چین سفیر د افغانستان او چین هېواد ترمنځ د ښو اړیکو څخه خوښي څرګنده کړه او ویې ویل، چې له ټولو اسلامي او ګاونډیو هېوادونو په څانګړې توګه له افغانستان سره ښې اړیکې لري او د پراختیایي او بنسټیزو پروژو په پرمختیا او بیارغونه کې له افغانانو سره همکار دی.جاو شینګ د واخان د سرک د جوړولو په تړاو هم خبرې وکړې چې د بدخشان له واخان څخه د چین تر سرحده پورې د کلیو ۳مخ

## مقامات افغان درمراسم فاتحه پسران ونواسه های اسماعیل هنیه شرکت کرد

داکتر محمد نعیم، سرپرست سفارت امارت‌اسلامی در دوحه پایتخت قطر و سهیل شاهین، رییس دفتر سیاسی امارت‌اسلامی در این کشور، در مراسم فاتحه پسران و نواسه‌های اسماعیل هنیه، رییس دفتر سیاسی حماس اشتراک کردند.نیروهای اشغال‌گر رژیم صهیونیستی در روز نخست عید سعید فطر، سه پسر و چهار نواسه اسماعیل هنیه را به شهادت رسانیدند.هم‌چنان مولوی یرخان متقی، سرپرست وزارت امور خارجه روزگذشته در تماس تیلفونی با اسماعیل هنیه، رییس دفتر سیاسی حماس ص۳


ځینې خبرې وژونکې وي ۲

د مدینې پر لور ۲

افغان اعلانات ۳


### سرمقاله

## برگزاری عید درفضای مصئون وصمیمی

عید سعید فطر نماد وتجلی رضایت خداوند عزوجل ، جشن دوری ازگناه ،معصیت و اوج امیدواری وتمسک به مغفرت ورحمت الهی است،خوشبختانه امسال مانند دوسال پسین عید سعید فطر درافغانستان نیز دریک فضای کاملاً امن ومطئن تجلیل وازآن بزرگ داشت به عمل آمد ومردم شریف ومتدین افغانستان توانستند روزهای عید سعید فطر را دریک فضای مصئون بدون دغدغه امنیتی به پایان برسانند هرچند بعد ازحاکمیت امارت اسلامی ،هیچ گروهی تروریستی رامجالی نبوده تا فضای امن کشور را به مخاطره اندازد،امادشمنان مردم افغانستان به ویژه دشمنان استقلال وآزادی این سرزمین رانباید دست کم گرفت ،ازاینروامارت اسلامی نظربه تعهدی که نسبت به آرامش مردم افغانستان دارد ،صدها هزار نیروی امنیتی ودفاعی کشوررا در روزهای عید درشاهراه ها،جاده ها،تفریحگاه ها،عید گاه ها،مساجد ونقاط مرتفع مستقر نمودتاشهروندان بتوانند به راحتی بدون اندکترین دلهره وتشویش ازروزهای عید تجلیل نمایند که این امنیت وآرامش سراسری درکشور علاوه برنعمت الهی ،دستآورد بزرگ نظام اسلامی ونیروهای امنیتی ودفاعی کشور است که باید مردم افغانستان شکرانه این نعمت الهی را به جا آورده درتامین امنیت کشورنیز ازهیچ نوع همکاری با نیروهای امنیتی شان دریغ نورزند.

## په هرات کې یوه ماشومه له ښځینه‌وو انسان تښتوونکو وژغورل شوه

د کورنیو چارو وزارت، په هرات کې د انسان تښتوونکو له منګولو څخه د یوې ماشومې د ژغورلو خبر ورکړی دی.د یاد وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي دي: ”د هرات ولایت د امنیې قوماندانۍ اړوند د امن عامه پولیسو، د یو لړ پلټونکو عملیاتو په ترڅ کې تېره ورځ یوه پنځه کلنه فهیمه نومې ماشومه د انسان تښتوونکو له منګولو ژغورلې ده.“د سرچینې د معلوماتو له مخې؛ دغه ماشومه ۹ ورځې وړاندې د یاد ولایت د اوومې حوزې له مربوطاتو څخه د دوو ښځو له خوا تښتول شوې وه.ویل شوي چې د قضیې په تړاو دوه انسان تښتوونکې د پولیسو له خوا نیول شوې دي.

## د لغمان علیشنګ کې د چکډیم جوړولو چارې ۹۰ سلنه بشپړ شوې



د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له خوا د لغمان ولایت په یوشمېر ولسوالیو کې د سېلابونو د مخنیوي، د ځمکې لاندې اوبو د پیاوړتیا، د خاورې د تخریب او د رسوبي موادو او اوبو د مدیریت په موخه د چک ډېمونو جوړولو چارې پیل شوې دي، چې رغنیزې چارې یې په بشپړېدو دي او په نږدې ورځو کې به ګټې اخیستنې ۳مخ

### وزارت شهر سازی و مسکن :

## در چهار زون کابل، توقفگاه ترانسپورتی ساخته میشود



وزارت شهر سازی و مسکن از ساخت توقفگاه ترانسپورتی در چهار زون پایتخت خبر داد.دفتر مطبوعاتی وزارت امور شهر سازی و مسکن با نشر این خبر گفته است: نشست به ریاست شیخ حمدالله نعمانی سرپرست آن برگزار شد که در آن روی دور کردن و یا کاهش مشکلات ترافیکی در شهر کابل و ساخت توقفگاه های ترانسپورتی در پایتخت بحث شد و چهار محل درچهار ص۳

## پکتیا کې به د کرنې او مالدارۍ په برخه کې اسانتیاوې رامنځته شي

د پکتیا دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس مولوي عبدالرؤف سعید د خپل کار په دفتر کې د ژغورنې نړۍوالې کمېټې له چارواکو سره په کتنه کې پر یوشمېر موضوعاتو خبرې اترې وکړې. په یاده ناسته کې په دوه اړخیزه همکاریو د بحث ترڅنګ د ښې همغږۍ په رامنځته کولو ټینګار وشو، همداراز ژغورنې نړۍوالې کمېټې استازي له ښاغلی سعید سره د خپلو راتلونکو پروژو په اړه معلومات شریک کړل. په همدې حال کې د پکتیا دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس مولوي عبدالرؤف سعید په خپلو خبرو کې د یادې کمېټې له مسولینو سره د همکارۍ د ژمنې ترڅنګ د یادې کمېټې له مسولینو وغوښتل، چې خپلې چارې د کرنې ریاست سره په همغږۍ په پوره شفافیت سرته ورسوي، نوموړي همداراز وویل، چې د پروژو په پلې کېدو سره به د کرنې او مالدارۍ په برخه سهولتونه هم رامنځته کړي.

# د مدینې پر لور

**لسمه برخه - لیکوال: سید ابوالحسن ندوي رحمه الله**
**ژباړن: محمدصادق طارق**

اقبال وایې: مسلمان که څه هم له شاهي شأن او شوکت څخه بې برخې دی خو وجدان، ضمیر او فکر یې شاهي دی چې که د لنډې مودې لپاره خپل مقام ته ورسیږي د دومره واک څښتن به شي چې څوک یې د مقابلې وس ونلري.

**مسلمان گرچه بی‌خیل و سپاهی است**
**ضمیر او ضمیر پادشاهی است**
**اگر او را مقامش باز بخشند**
**جمال او جلال بی‌پناهی است**

له دی وروسته اقبال ځان ته راغبرګیږي، خپل کیسه کوي او وایې: زه د خپلې زمانې او ټولنې سره په یوې خونړۍ جګړې کې ښکیل یم.

**گهی افتم گهی مستانه خیزم**
**چه خون بی‌تیغ و شمشیری بریزم!**
**نگاه التفاتی بر سر بام**
**که من با عصر خویش اندر ستیزم**

په دی کې شک نشته چې اقبال په خپل ټول ژوند کې له خپلې زمانې سره په جګړه بوخت ؤ؛ د غرب له تمدن او مادي فلسفې څخه یې انکار کاوه، تل به یې پرې انتقادونه کول، مبارزې ته به یې راباله، په غیرت، میړانې او پوهنه یې د هغوی بطلان او جعلي توب ثابتول او له مکارۍ څهرې نه یې پرده پورته کول. هغه په حقیقت کې د نوي نسل مربّي، پر الله تعالی باندې متوکل او مؤمن، پر خپل شخصیت او اسلام باندې ډاډمن او له مادي نظامونو او فکري سیستمونو څخه یې منکر ؤ. دا یې حق ؤ چې ووایې:

**چو رومی در حرم دادم آذان من**
**از او آموختم اسرار جان من**
**به دور فتنه‌ی عصر کهن، او**
**به دور فتنه‌ی عصر روان، من**

محمد اقبال له غربي زده کړو سره د خپل مخالفت، له دام څخه یې روغ راوتل او د خپل عقیدې، ایمان او خصوصیاتو یادونه کوي او وایې: زه لکه هغه مارغه چې د ښکاري جال کې ولویږي، دانه وخوري او بیرته روغ بهر شي همداسې د غربي علومو له دام څخه روغ راووتم.

**طلسم عصر حاضر را شکستم**
**ربودم دانه و دامش گسستم**
**خدا داند که مانند براهیم**
**به نار او چه بی پروا نشستم**

وروسته د اروپا په سترو ښارونو کې د خپل ژوند تېرولو اړوند بحث کوي؛ هغسې ځایونه چې ده له بې ارواوو کتابونو، فلسفې بحثونو، فتنه ییزو ښکلاوو او مظاهرو پرته نور څه پکې لیدلی نه دي. په همدې تړاو وایې:

**به افرنگی بتان دل باختم من**
**ز تاب دیریان بگداختم من**
**چنان از خویشتن بیگانه بودم**
**چو دیدم خویش را نشناختم من**

هغه په زغرده وایې: زما د ژوند تر ټولو تورې او بدمرغې ورځې هغه وی چې زه د غربي پوهانو او فلاسفه‌و تر څنګ ناست وم.

**می از میخانه مغرب چشیدم**
**به جان من که درد سر خریدم**
**نشستم با نکویان فرنگی**
**از آن بی‌سوزتر روزی ندیدم**

وروسته وایې: ای د الله تعالی رسوله! د سوال کچکول مې تر تا راوړی دی ځکه د غربي پوهانو او فلسفیانو لوست مې په سر درد راولاړ کړ او ما د مینې او ایمان په لمن کې لوبې کړی دي نو ځکه مې روحي تنده له محبت او عاطفې پرته بل څه نه خړوبوي.

**فقیرم از تو خواهم هر چه خواهم**
**دل کوهی خراش از برگ کاهم**
**مرا درس حکیمان درد سر داد**
**که من پرورده‌ی فیض نگاهم**

دلته اقبال د خبرو لور مخ پر هغه کسانو ګرځوي چې د علم او دین د استازیتوب نارې وهي، د یادو کسانو په اړه وایې: دا ډله هم له مینې، عاطفې او داخلي سوز څخه محرومه ده یوازې یې په وچو ظاهري علومو او د اصطلاحاتو په بازار تودولو زړه ښه کړی دی. هغه په خورا بلیغ ډول یادو کسانو ته د حجاز له ریګو سره تشبیه ورکوي او وایې: د حجاز د ریګو ارزښت د بیت الله او زمزم له امله زیات دی که یاد شیان پکې نه وي نو سوځنده دښتونه او وچ غرونه څه ګټه لري؟ همدارنګه دیني چارپوهان که هر څومره زیاته پوهنه، روانه ژبه او تېز عقل ولري خو که په سترګو کې یې د محبت اوښکې او په زړه کې یې د دین غم نه وي، **فقیران او مفلس دي.**

**دل ملا گرفتار غمی نیست**
**نگاهی هست در چشمش نمی نیست**
**از آن بگریستم از مکتب او**
**که در ریگ حجازش زمزمی نیست**

له دی وروسته مخ پر ځان راغبرګیږي او وایې: ما هېڅ کله خپل وجدان په چا پلورلی نه دی، د ستونزو په حل کې مې له چا مرسته غوښتې نه ده او له الله تعالی پرته مې په هېڅ چا اعتماد نه دی کړی.

**دل خود را به دست کس ندادم**
**گره از روی کار خود گشادم**
**به غیر الله کردم تکیه یک بار**
**دو صد بار از مقام خود فتادم**

نور بیا ...

# ځیني خبرې وژونکې وي

**منیر فاروقي**

په الله قسم، کله ناکله مې زړه سخت درد وکړي او پرې، پرې شي. په تېره بیا د اختر په ورځو کې، کله چې یو خړ پړ ګګر سری یتیم ووینم. بیا نو خپل احساسات کنټرولول راته ډېر سخت وي، بې اختیاره مې له سترګو اوښکې روانې شي.

یو ملګري راته کیسه کړه، چې د کوچني اختر په ورځ د یوې هدیرې تر څنګ تېرېدم، ګورم چې یوه ماشومه انجلۍ د یوه قبر سر ته ولاړه ده، د حال معلومولو لپاره ورنږدې شوم، چې ګورم دا ماشومه انجلۍ په خپله معصومه ژبه، په داسې حال کې چې له سترګو یې د ملغلرو په سېر اوښکې روانې وې، یاد قبر ته داسې ویل:

پلار جانه! دا دویم اختر دی، چې زه نوي کالي، بنګړي، ټیکری او څپلۍ نه لرم.

پلاره پورته شه! بل اختر ته زه خامخا نوي کالي او بنګړي درڅخه غواړم.

پلارجانه! زما خبرې اورې؟ ولې جواب نه راکوې؟ نن خو د اختر ورځ ده، د کلي ټولو نجونو ښه نوي کالي او بنګړي اچولي وو، ماته یې ویل، ستا ولې کالي او بنګړي زاړه دي، نوي نه لرې؟

ورشه! مور او پلار ته دې ووایه، چې نوي بنګړي درته واخلي.

مور ته مې څو ځله وویل؛ خو هغه یې نه راته راوړي. هر وخت راته وایي چې پلارجان دې تللی، تا ته به د اختر سودا راوړي؛ خو ته دلته بې غمه ویده یې!

پلارجانه اورې! زر کوه راولاړ شه او ماته د اختر سامان واخله، ما پورې مې ملګرې او همزولې خاندي، زر کوه راولاړ شه! همدا خبرې یې تکرارولې او په سلګیو کې به یې غږ ورک شو.

د ملګري کیسه لا ختمه نه وه، چې په ما کې د اورېدو طاقت ختم شو او بې اختیاره مې په چیغو، چیغو وژل. ګورئ ملګرو! دا یوه خیالي کیسه نه ده، زموږ هېواد کې په زرګونو داسې یتیمان شته، چې مورانې یې په همدې خبرو، پلار به مو راتلونکي اختر ته راشي او تاسو ته به د اختر سودا واخلي، د هغوی ژړا بندوي او د پلار د راتلو په طمعه یې ویده کوي.

زما د امارت له مشرانو، ډلګۍ مشرانو او نورو مجاهدینو څخه یوه هیله ده، چې د شهیدانو کورنۍ هېرې نه کړئ. د هغوی زاړه مور او پلار هېر نه کړئ. هغه شهیدان ملګري مو هېر نه کړئ، کومو چې د دې هېواد او اسلامي نظام قایمولو لپاره خپل ځانونه قربان کړل.

هر ډلګی مشر او هر مجاهد دې د هغو شهیدانو کورنو ته ورشي کوم، چې له دوی سره په یو سنګر کې، د دوی تر امر لاندې جنګېدل.

که مو مالي وس کېده، د شهید بچي ته یو څه درسره واخلئ، کنه د شهیدانو بچیان دومره بې غیرته نه دي، چې د چا مال ته سترګې ونیسي، ستاسو له مال او موادو وروړلو څخه په دې ډېر خوشحالیږي، چې د پلار د سنګر ملګری یې کور ته د پوښتنې لپاره ورشي.

علماء فرمايي، چا چې د یتیم په سر د شفقت او مهربانۍ لاس کش کړ، څومره وېښته چې د نوموړي د لاس لاندې راشي، همدومره نېکیانې به الله جل جلاله ورته ورکړي.

په اخېره کې له ټولو لوستونکو ورونو څخه یوه هیله کوم د شهیدانو په حق کې لاسونه پورته کړئ او د زړه له صدقه ورته دعا وکړئ. الله جل جلاله دې موږ او تاسو هم د قیامت په ورځ د شهیدانو په صف کې راولاړ کړي. امین

# د کمال څښتن!

**امان الدین قاسمي**

یوه سړي، ابوسعید الخیري رحمه الله ته وویل:

هغه انسان ډېر کمال والا دی؛ چې په هوا الوزي!

ابوسعید الخیري وویل:

که الوتل کمال وی؛ نو له مچ څخه به بل د کمال څښتن څوک نه و.

سړي وویل: د کمال څښتن هغه دی؛ چې د اوبو د پاسه تګ کولی شي!

ابو سعید: که په ابو تګ د کمال خبره وی؛ نو د نی له هغه لرګي؛ چې د ابو په سر درومې بل ستر کمالي نه وای.

سړي وویل: ستا په اند د کمال څښتن څوک دی؟

ابوسعید: د کمال خاوند هغه دی؛ چې له خلکو سره ژوند کوي؛ خو دده له لاس و ژبې چا ته ضرر نه رسیږي، په چا ملنډې او پوسخند نه وهي، د چا له مجبوریته ناوړه ګټه نه پورته کوي او دروغ هم نه وایې

بیا یې وویل:

دا حتمي نه ده چې نورو ته دی ګټه ورسېږي؛ بلکې دا ضروري ده؛ چې چاته دی ضرر او نه رسیږي، دا اړینه نه ده ؛ چې خلک اصلاح کړې؛ بلکې دا ضروري ده چې تل خپلو عیبونو ته متوجه وې ؛ تر دې چې دا هم اړینه نه ده چې له خلکو سره محبت و مینه وکړې؛ بلکې دا ضروري ده چې له چا سره دښمني او نه کړې او په امن او سوکاله فضا کې ژوند وکړې.

# د روژې د نیکو اعمالو اغېزې او ساتنه یې

**مولوي نورالحق مظهري**

په دې خاطر چې د روژې مبارکه میاشت د عبادت، دعا، رحمت او آزادۍ میاشت وه ځکه نو په تېرېدلو یې هر با احساسه او متقي مسلمان خوابدی دی او داسې احساس کوي چې ما ډېر لوی فرصت له لاسه ورکړی دی خو خوشحالي دې وي د هغو کسانو لپاره چې د دې مبارکې میاشتې روژه یې نیولې وي، په دې مبارکه میاشت کې یې د فرائضو تر څنګ نوافل عبادات هم ډېر کړي وي او د نیکیو په لاس ته راوړلو کې یې د سیالۍ په څېر زیار او کوښښ کړی وي.

یقینا چې دغه انسانانو ځانونه د احسان مرتبې ته رسولي دي او ځانونه یې د هغو کسانو څخه ګرځولي دي چې د الله تعالی عبادت یې په پوره توګه سر ته رسولی او د عبادت ټول حق یې په تمامه معنی آداء کړی دی؛ په رښتیا چې دغه انسانان د نورو څخه بېل او متمایز دي ځکه دوی الله تعالی لره خپل اخلاص او صفاوالی د نیت ثابت کړی دی او د روژې مبارکه میاشت یې په ښه مراسمو باندې لمانځلې ده.

هغه کسانو چې روژه نیولې، ځانونه یې د هر هغه شي څخه ساتلي دي چې الله تعالی په قهر کوي، خپله روژه یې د هر ډول فساد او نیمګرتیا څخه ساتلې ده خو د روژې په میاشت کې یې نفلي عبادتونه نه دي کړي په رښتیا چې دوی د اسلام د مرتبې څخه د ایمان مرتبې ته عروج کړی دی او د دې امید شته چې الله تعالی به یې روژه او ټول عبادات په خپل دربار کې قبول کړي خو دوی د احسان مرتبې ته لا هم ندي رسېدلي.

او هغه کسان چې روژه یې نیولې وي خو سمه روژه یې نه وي نیولې بلکې په روژه کې یې خپله ژبه د غیبت، بهتان، درواغو چغلګرۍ څخه نه وي ساتلې، خپل غوږونه یې د باطل او بدو شیانو د اورېدلو څخه نه وي ساتلي، خپلي سترګې یې د ناروا کتلو څخه نه وي خوندي کړي، خپل نس یې د حرام خوړلو څخه نه وي ژغورلی او خپل لاسونه او پښې یې د حرام کولو څخه نه وي راګرځولي که څه هم دوی د روژې فرض آداء کړی دی خو روژه یې د ثواب څخه خالي ده او رسول الله صلی الله علیه وسلم د داسې خلکو په اړه فرمایي:

ژباړه: ځینو روژاتیانو لره د دوی د روژې څخه بېله لوږې بل هیڅ ګټه نه رسیږي.

یعنې دوی ته د روژې څخه یوازې لوږه رسېدلې وي نور ثواب یې پر روژه باندي مرتب نه وي.

د روژې میاشتې د عبادتونو مثبت تأثیر څنګه حس کړو؟

دا معلومه خبره ده چې په هر عبادت کې الله تعالی مثبت تأثیر ایښی دی؛ روژه هم د هغو عبادتونو څخه ده چې الله تعالی د بنده لپاره ډېر مثبت تأثیرونه پکې ایښي دي.

د دې تر څنګ چې روژه د انسان ظاهري روغتیا ته ګټه لري د انسان لپاره د ګناهونو څخه پاک کوونکې میاشت هم ده ځکه نو باید په روژه باندي د انسان ایمان قوي شي، اخلاق یې برابر شي او د نیکو کارونو سره یې علاقه مندي ډېره شي.

که د روژې میاشتې د تېرېدلو وروسته په کوم انسان کې د عبادت سره مینه موجوده وه، پر جماعت او نورو عبادتونو یې پابندي کوله، د خپلوانو سره یې صله رحمي ټینګوله، د مور او پلار سره یې پوره نیکي کوله، د صدقاتو او نفلي عباداتو سره یې مینه درلودله، د ځان او نورو مسلمانانو تزکیه یې کوله، همداسې د حرام خوړلو، حرام ویلو، حرام کتلو، حرام اورېدلو او حرام کولو څخه یې د ځان ساتنه کوله یقینا چې په دغه انسان کې روژې پوره تأثیر کړی او روژه یې الله تعالی ورڅخه قبوله کړېده.

د روژې میاشت د حمام کولو حیثیت لري لکه په حمام کولو باندي چې انسان د ظاهري چټلیو او بدبویۍ څخه ساتل کیږي په روژه باندي هم انسان د ګناه د چټلیو څخه ساتل کیږي او په هره برخه کې تهذیب او تزکیه د انسان په برخه کیږي.

**د روژې میاشتې اعمال به څنګه ساتو؟**

د هر نیک عمل د کولو وروسته د هغه عمل ساتل ډېر مهم دي ځکه که عمل و نه ساتل شي نو هغه عمل ضائع او خراب شو او انسان ته یې هیڅ ګټه نه رسیږي؛ الله تعالی فرمایي:

ژباړه: ای مؤمنانو د الله تعالی اطاعت وکړئ، د رسول اطاعت وکړئ او خپل عملونه مه باطلوئ.

یعنې خپل عملونه په ګناهونو باندي مه باطلوئ ځکه په ګناه باندي د انسان صالح اعمال له منځه ځي لکه په حدیث شریف کې چې راځي:

ژباړه: ځانونه د حسد څخه وساتئ ځکه حسد نیکۍ داسې خوري لکه اور چې بوټي خوري.

همداسې په حدیث کې راځي:

ژباړه: حذیفه رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې ده وفرمایل: پر پاکې ښځې تهمت ویل د انسان د سلو کلونو عملونه خرابوي.

همداسې په حدیث کې راځي:

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: خپلې نیکۍ وساتئ او ستاسې څخه دي په ناخبرۍ کې نه ځي لکه اوبه چې ستاسې د لاس څخه ځي، صحابه وو وویل: په څشي باندي نیک اعمال زموږ د لاسه څخه ځي یا رسول الله؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په غیبت کولو باندي.

یعنې که تاسې د نورو مسلمانانو غیبت وکړی نو ستاسې نیک اعمال به ورسره له منځه ځي.

لکه د ګناه څخه په ځان ساتنې چې د انسان صالح اعمال ساتل کېدلای شي پر نیکو اعمالو په استقامت باندي هم نیک اعمال د ضائع کېدلو څخه ساتل کېدلای شي.

علماؤ فرمایلي دي: که څوک په لاندي پنځو شیانو کې استقامت وکړي ارومرو به یې مخکني نیک اعمال قبول شي او په را روان وخت کې به د نورو نیکو اعمالو توفیق ورته په نصیب شي:

۱ - استقامت د الله تعالی پر توحید او یووالي.
۲ - استقامت پر عباداتو او طاعاتو.
۳ - استقامت پر اخلاص او حسن نیت.
٤ - استقامت د وینا او عمل پر یووالي یعنې لکه په خوله چې ښه خبرې کوي په عمل کې هم ښه کارونه وکړي.
٥ - استقامت د ظاهر او باطن پر یووالي یعنې لکه په ظاهره چې انسان ځان له ګناه څخه ساتي په باطن کې هم ځان د ګناه څخه وساتي.

نو مسلمان باید خپل ټول صالح اعمال د کولو څخه وروسته وساتي تر څو ضائع نه شي او د ثواب څخه یې محروم نشي.

## یوه اړینه دنده، د اسلامي امارت پولیسو د اسلام د دښمنانو پلان شنډ کړ

### تبصره

د روژې مبارکه میاشـــت کې د ټول هېواد په کچه په ځانګړې توګه ښـــارونو کې د حســـینیو او جوماتونو د امنیت ســـاتلو لپاره زرګونه پولیس ګمارل شـــوي وه، چې الحمدلله دغه دنده يې په ټول هېواد کې په ښـــه توګه ترسره کړه او دا يې ثابته کړه، چې اسلامي امارت د امنیت په ساتلو کې ساری نه لري.

موږ او تاســـې په تېر کـــې ولیدل، چې د امنیت نه شـــتون ښخي یو شـــرعي عذر ګرځېدلی و او هر چا به د خپـــل ځان له ډاره لمنځونه په کور کې کول او د امنیتي ننګونو له امله به جوماتونو ته نه شوای تللی.

خلک ملامت هم نه وه، هغه وختونه په ریښتیا هم مسوولین د امنیت په خوندیتوب کـــې پاتې راغلي وه، نو ځکه خو خلکو د لمانځه لپاره کور د جومات په پرتله غوره ګاڼه.

د اســـلامي امارت په راتګ سره دغه ستونزه حل شـــوه او د جوماتونو او حسینیو د امنیت د خوندي توب لپاره ځانګړي ګامونه پورته او پلان ورته جوړ شـــو.

دا پوښتنه به له ډېرو سره وي، چې د مسلمانانو دښمنان ولې د جوماتونو او حسینیو امنیت ته ګواښ پېښوي.

د جومات دښـــمن ټول یو دی او یوه موخه تعقیبوي، داسې یو هدف چې پر اساس يې غواړي د مســـلمانانو د یوالي مخه ونیسي او په جومات کې د راټولېدنې یو ستر هدف همدادی، چې مسلمان په اتفاق شي.

دویمه موخه يې دا ده، چې دوی غواړي د اوســـنيو او په ځانګړي ډول د راتلونکي مسلمان نسل زړه له جومات او منبر څخه ور تور کړي.

دوی پوهېـــږي، چې د مســـلمانانو انســـجام له همدې جوماتونو پیـــل او د کفارو پـــه ناکامۍ پای ته رســـېږي نو په همدې خاطر هڅه کـــوي، چې له خپل هر ډول امکاناتو څخه په اســـتفادې د جومات او دغلته د مسلمانانو د راټولېدو مخ ونیسي.

د کفارو د دغو موخو ښـــه بېلګه د الاقصی جومات دی، چې صهیونســـتانو اشغال کړی او د مسلمانانو د ورتګ مخالفت کوي.

اســـرایلیان پوهېږي، که په دغه مسجد کې د مســـلمانانو راټولېدنې زیاتې شي، نو معلومه خبره ده، چې دغه را ټولېدنې د مســـلمانانو د قوت لامل ګرځي او د اسلام د دښمنانو ګټې له تاوان سره مخ کېږي.

نو خبره د افغانســـتان ده، چې الحمدلله پولیســـو يې وکولی شول سږنۍ روژه کې د کفارو او د اســـلام د دښمنانو دسیسې شـــنډې کړې او خپله دنده يې په ښه توګه ترسره کړه.

## تقدیر از تلاش ...

امنیتی به هیچ‌کســـی اجازه نمی‌دهند که به فعالیت‌های تخریبی در افغانستان دست بزنند. هم‌چنان در این اعلامیه ذکر شده‌است، افغانستان امروز دارای یک نظام مستقل و نیروهای قوی اســـلامی و ملی امنیتی می‌باشد و برای هیچ‌کســـی جای وجود ندارد که در داخل و یا خارج از افغانستان اعمال و فعالیت‌های تخریبی را انجام دهد.

## تېرو دوو کلونو کې ۸ زره ...

ته نورې اســـانتیاوې هم برابرې کړي. د اقتصادي چارو ځینې شـــنونکي د هېواد د اقتصاد د ودې لپاره د بهرنیو ســـیلانیانو تګ راتګ ګټور ګڼي. د ویلو تېر کال تر ډېره بهرني سیلانیان هرات، بلخ، کندهار، نورستان او غزني ولایتونو ته تللي وو.

## باید تمام روند ...

سرپرســـت آن وزارت در دیـــدار با رییس شـــرکت تویار چین، دررابطه به پیشـــرفت و فعالیت های شـــرکت یاد شـــده بحث و تبادل نظر کرد.رییس شـــرکت تویار، در مورد کارهای اکتشـــافی پروژه ‹ مس عینک ۲›، صحبت کرده، پیشـــنهادها و مشکلات را که فرا را کار شان موجود اســـت با سرپرست وزارت شریک کرد.سرپرست وزارت حضور ســـرمایه گذاران کشور چین را ســـبب تحکیم و گسترش روابط اقتصادی میان دو کشور مهـــم خواند مگر تاکیـــد کرد که باید تمام مراحل تولید در افغانســـتان عملی شـــود و همچنان جهت حل مشـــکلات شرکت یاد شده هدایت لازم داد.

## پروان کې د ټرافیکي ...

داسې مهال رامنځته کېږي چې له دې وراندې هم یاد ولایت او د هېواد په نورو ولایتونو کې هم ورته پېښـــې رامنځته شـــوې چې تر ډېری يې لامل د سړکونو خرابوالی، د موټرچلوونکو بې‌احتیاطي او له ټرافیکي قوانینو سره د موټرچلوونکو نه بلدتیا په ګوته شوې.

## ۴۲۰ بې وزلو ښځو ته . . .

اداري مســـوولینو ته ښه راغلاست وویل او په ۱۴۰۲ کال کې يې د دوی د کارونو چې د کرنې ریاست ســـره په بشپړه همغږۍ کې پلي شـــوی قدرداني وکړه.ددې غونډې په ترځ کې دلاس په لاس مؤسســـې مســـوولینو خپل پروګرامونه د کندز د کرنې رییس ته تشریح او شریک کړل دوی وویل، چې د دوی په پلي شـــویو پروژو کې«۴۲۰ بې وزلو ښځو ته د کار پیدا کول، په ۸ ولسوالیو کې د ۶۹ بڼونو جوړول، د پیسو په بدل کار چې ۱۵۰۰ کسان په ۴۰ ورځو کې په کار به بوخت وي، بزګرانو ته د مېوې د وچولو ۲۵ پایې لمریز ماشـــینونو وېش، د اینجې د کښت په برخه کې له ۵۰ بزګرانو ســـره مرســـته، د اوبو د راګرځیدو د بندونو جوړول، په علي آباد او چهاردرې ولسوالیو کې ۱۵ د ممیزو وچولو کوټې جوړول، د امام صاحب، کلباد ولسوالیو او په مرکز کې ۸۸۲۳ بزګرانو ته د غنمو او کیمیاوي سرې وېش شامل دي.»د یادې اداري مسوولینو د کندز ولایت د کرنې رییس الحاج مولوي امان الله حسن نه د ۱۴۰۲ کال د پروژو د پلي کولو په برخه کې د همکارۍ په موخه د قدرداني تر څنګ، همداراز د ۱۴۰۳ کال د پروژو د ښه پلي کیدو لپاره د همکارۍ او ملاتړ غوښتنه وکړه او زیاته يې کړه، چې د کرنې ریاست له ملاتړ پرته د پرمختیایي پروژو پلي کول به له ننګونو ډک وي

## د لغمان علیشنګ کې د چکډېم ...

ته وسپارل شي.ددغو چکډمونو د جوړولو په ترځ کې د لغمان ولایت د علیشنګ په ولسوالی کې د موسمي اوبو مدیریت په موخه د چکډیم جوړولو چارې ۹۰ سلنه بشپړ شوي دي.

دلغمان مرستیال والي مولوي اختر محمد مزمل او د دې ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس الحاج مولوي محمد ولي محســـن د علیشنګ ولسوالی د مصطفی کلي د چک ډېم د جوړېدو پروژې له چـــارو څخه د لیدنې په ترځ کې وویل:»د دغه چک ډېم د رغنیزې چارې نوي سلنه تکمیل شوي، چې په نږدې ورځو کې به يې پاتې چارې هم بشپړې او د دې سیمې خلکو ته به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.»یاد چکډیم به د اوبو د سطحې په لوړوالي کې ګټور تمام شـــي او تر ډېره حده به د یادې سیمې د اوبو ستونزه هواره او یوشمېر خلکو ته په کې دکار زمینه هم برابره شوې ده.

## در چهار زون کابل...

اطراف شهر برای ساخت توقفگاه مشخص شد. این نشست به منظور تطبیق یکی ازفیصله های کابینه امارت اسلامی برگزار شده بود شد که در آن نمایندگان نهاد های دخیل شرکت داشتند. این توقفگاه‌ها در ولسوالی های خاک‌جبار، استالف، چهارآسیاب و ساحه ارغندی ولسوالی پغمان ساخته به گونه یی معیاری ساخته خواهند شد.

## چین به د افغانستان له لارې ...

بیارغونـــې او پراختیا وزارت له لـــوري د جوړېدو چارې روانې دي.ورتـــه مهال د کلیو، بیارغونې او پراختیا وزارت سرپرســـت ملا محمد یونس اخندزاده دوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ له افغانســـتان سره د چین له سیاسي او اقتصادي همکاریو مننه وکړه او ویې ویل، چې موږ غواړو له خپلو ګاونډیو هېوادونو په ځانګړي توګه له چین سره د پر متقابل احترام والاړې ښـــې اړیکې ولرو. نوموړي زیاته کړه: »د واخان ســـړک چې چین تر ســـرحده یې لومړنـــي کارونه د کلیو، بیارغونې او پراختیا وزارت له لوري په چټکۍ ســـره جریان لري، چې ژر به همدا خام سړک د چین تر سرحده ورسېږي». هغه همدرانګه څرګنده کړه، چې د یاد ســـړک اساسي جوړېدل به د دوارو هېوادونو د اقتصاد په پیاوړتیا کې مهم رول ولري او چین به د افغانســـتان له لارې د منځنۍ آسیا له هېوادونو سره د لنډې او اقتصادي لارې وصل شـــي. د کتنې په پای کې دوارو لوریو پر دوامدارو همکاریو ټینګار وکړ.

## په ټول هېواد کې ...

ســـتاینه کوي.“هغه له امنیتي ځواکونو سره د هېوادوالو د ښې همغږۍ مننه کړې او داډ يې ورکړی چې امنیتي ځواکونه به د موجود سراســـري امن او نظـــم د داوم په لاره کې خپلې ټولې هڅې جاري وساتي.

## مقامات افغان ...

شهادت اعضای خانواده‌اش را تسلیت گفته‌است.به‌گفته آقای متقی، آرومند است روزی در نتیجهٔ خون شهدأ فلسطین از چنگ اشغال‌گران صهیونیستی آزاد خواهد شد.اسماعیل هنیه در آن تماس با ارائه سلام به زعیم امارت اســـلامی عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله و ملت افغانســـتان گفت، افغانان پیش‌قدمـــان مبارزه و آزادی اند و ما نقش قدم‌های آن‌ها را می‌پیمایم.

## افغانان د آزادۍ د مبارزې ...

هیله ښودلې چې د شهیدانو وینې به حتما رنګ راوړي او ویلي يې دي چې باور لري د دغو قربانیو په پایله کې به د فلسطین خاوره د صهیونیستي اشغالګرو له منګولو آزاده شي.د هېواد د بهرنیو چارو وزارت سرپرســـت همدا رنګه یادونه کړې چې افغانستان هم د زیاتو قربانیو په پایله کې خپلواکي ترلاسه کړې او د فلسطین مجاهد ولس ته يې د استقامت، ثبات او صبر هیله کړې ده.په ورته مهال، اسماعیل هنیه د مولوي امیر خان متقي له تسلیت او غمرازۍ شریکولو څخه مننه کړې او د شهیدانو د شهادت قبولتیا دعا يې کړې ده.هغه ویلي دي: “د افغانستان ملت د آزادۍ د مبارزې مخکښان دي او موږ د هغوی پر پلونو مزل کوو، امید دی چې زموږ دغه وینې به هم رنګ راوړي.“د حماس غورځنګ د سیاسي دفتر مشر، دغه راز د افغانستان اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله او د افغانســـتان ولس ته خپل سلامونه او نیکې پېروزینې وړاندې کړې دي.د نړیوالو رسنیو د راپورونو له مخې؛ د حماس غورځنګ د سیاســـي دفتر د مشر اسماعیل هنیه درې زامن او د کورنۍ څو نور غړي يې، د اسرائیلو صهیونیستي رژیم په هوایي برید کې چې پرون په غزه کې ترسره شو؛ په شهادت ورسېدل.

## وزارت صنعت و تجارت: افغانستان در تولید ۱۳۳ قلم جنس به خودکفایی رسیده است

**وزارت صنعـــت و تجارت می‌گوید که افغانستان در ۴۵ ســـکتور و در تولید ۱۳۳ قلـــم جنس به ظرفیت خودکفایی رسیده است و این وزارت تلاش دارد تا افغانستان از یک کشـــور وارداتی به صادراتی تبدیل شـــود. مسوولان ایـــن وزارت همچنـــان بـــر ادامه پشتیبانی از تولیدات داخلی و جذب ســـرمایه‌گذاری به این منظور تأکید دارنـــد. ســـخنگوی وزارت صنعت و تجـــارت بـــر افزایش اســـتفاده کالاها و تولیـــدات داخلـــی در پروژه‌هـــای دولتی و ملـــی تأکید کـــرده و افزوده اســـت که تلاش‌ها بـــرای یافتن بازار برای محصـــولات داخلی در داخل و خارج از کشـــور نیز آغاز شده است. عبدالســـلام جـــواد آخنـــدزاده گفته اســـت: «در ۱۳۳ قلم اجناس تولیدی که ۴۵ ســـکتور می‌شـــود بـــه ظرفیت خودکفایـــی رســـیدیم و همچنـــان در ۹۵ قلم جنس تولیدی که ۲۷ ســـکتور می‌شـــود بـــه ظرفیـــت نیمه‌خودکفایی رسیدیم.»**

**آقـــای جـــواد آخندزاده عـــلاوه کرد: «ایـــن در حالـــی اســـت کـــه ادارات امارتـــی متعهد به اســـتفاده اجناس و تولیـــدات داخلی جهـــت حمایت از رشـــد صنایع در کشور می‌باشند.»در همیـــن حال، اتـــاق صنایـــع و معادن نیـــز می‌گوید که در جریـــان دو و نیم ســـال گذشـــته به انکشـــاف تولیدات داخلـــی بیشـــتر توجه صـــورت گرفته و در حال گســـترش اســـت. بـــا این حال، مســـوولان این اتاق بر گسترش فرهنـــگ اســـتفاده از تولیدات داخلی در پروژه‌های دولتـــی تأکید می‌کنند. عبدالنصیر رشـــتیا، عضو اتاق صنایع و معـــادن در این مـــورد بیـــان نمود: «مـــن فکـــر می‌کنم کـــه حکومت هم یکـــی از بزرگتریـــن مصرف‌کننـــدگان در مارکیت می‌باشـــد در صورتیکه در تمام پروژه‌های انکشـــافی و توسعه‌ای خـــود از محصـــولات و تولیـــدات داخلی اســـتفاده بکند.» از سویی هم، کارشناســـان اقتصادی گفته‌اند که اگر اســـتفاده از تولیـــدات و محصولات داخلی در پروژه‌هـــای دولتی افزایش یابد، افغانســـتان به ســـرعت به سوی اســـتقلال اقتصـــادی پیـــش خواهـــد رفت.**


## افغـان اعـــلانات

### اطلاعیه مزائیده

مطابـــق به تجویز قضایی کـــه برویت مکتوب شـــماره ۷۴۶ بر ۳۳۱۵ مورخ ۱۴۴۴/۷/۲۸ ه ق منجانـــب محکمـــه ابتدائیـــه تجارتی ب ولایـــت کابل و با در نظر داشـــت فیصله نمبر ۶۸ مـــورخ ۱۴۰۰/۴/۱۳ ه ش صـــادره دیوان رســـیدگی به قضایای تجارتی ب ولایت کابل فتوی شـــرعی نمبر ۲۴۵ مورخ ۱۴۴۴/۵/۲۰ ه ق ریاســـت محترم دارالافتاء ســـتره محکمه ا.ا.ا و همچنـــان نظر به هیئـــت موظف مقام محترم ســـتره محکمه ا.ا.ا کـــه مبنی بر تطبیق فیصله نمبر فوق و تائید فتوی شـــرعی متذکره ابـــراز نظر نموده اند ، جلســـه داوطلبی فرش امتیـــاز یک بـــاب درملتـــون تحـــت عنوان همایون حســـن واقع منـــزل اول هوتل پروان ناحیه یازدهم شـــهر کابل و همچنـــان پنجاه فیصد ســـهم امتیاز فابریکه دواسازی کیماګر و ماشـــین آلات ، وســـایل تولیدی ووسایل اضافی مانند ( جنراتور ،سیســـتم برق و سایر ملحقات آن) اسمی محمود سرور زاده فرزند غلام رضاء به تاریخ ۱۴۴۵/۹/۲۷ ه ق مطابق ۱۴۰۳/۱/۱۸ ه ش برگـــذار گردید که در نتیجه اسامی حســـیب الله مهری فرزند علاو الدین با ارایـــه بلند تریـــن قیمت مبلـــغ ۲۸۱۰۰۰ دو صدو هشـــتاد و یک هزار دالـــر امریکایی منحیث داوطلب و خریـــداری امتیاز فابریکه دواســـازی کیماګر و ماشـــین آلات ، وسایل تولیدی و وســـایل اضافی مانـــند ( جنراتور ، سیســـتم برق و سایر محلقات آن ) و همچنان اســـامی احمد ادریس فرزند پادشاه افغان با ارایه بلند ترین قیمت مبلغ ۲۸۰۰۰ بیســـت و هشـــت دالر امریکایـــی ،منحیث داوطلب و یـــا خریدار امتیاز یک بـــاب درملتون تحت عنوان همایون حســـن واقع منـــزل اول هوتل پروان ناحیه یازدهم شـــهر کابل برنده مجلس داوطلبی شـــناخته شدند. اشـــخاص حقیقی و حکمی که خواهش اشتراک در مجلس مزایده را داشته باشند درخواست های خویش را در خـــلال مـــدت ۱۲ روز کاری اعتبار از تاریخ نشـــر اعلان به ریاســـت حقوق ولایت کابل تعمیر ســـابقه وزارت عدلیه پشتونســـتان وات بســـپارند تضمین به صـــورت نقدی اخذ می گردد. ۳۳۱

++++++

### اطلاعیه به گرایه گیری

اســـامی مومن فرزند عباد الرحمن میخواهد یک بـــاب کانتینـــر فـــروش تولیدات ســـیلو جوار درب ورودی ســـیلو متصل به ریاســـت ترانســـپورت را ماهـــوار بـــه مبلـــغ ۲۵۰۰۰ افغانـــی بـــرای مـــدت یک ســـال بـــه کرایه بگیرد. اشـــخاص ، موسســـات و شرکت های خصوصی کـــه خواهش گرفتن آنـــرا بالاتر از مبلغ متذکره داشـــته باشـــند درخواست های خویش را بعد از نشر اعلان به مدت ۱۵ روز به مدیریت خدمات سیلو بسپارند . شرطنامه اخذ و تضمین نقدا اخذ میگردد. ۳۳۶

++++

### اطلاعیه

د ارزاقـــو امارتـــي شـــرکت د خپلـــو اړوند د فاترو لپاره وســـایطو روغنیاتـــو (تیل او اړوند لوازم يې ) وســـایلو ته اړتیا لـــري ، ټول هغه لوجســـتیکي او تجارتي شـــرکتونو چې په یاده برخـــه کې تجربه او دلچســـپي ولري د ارزاقو امارتي شـــرکت د تـــه دي د ۱۴۰۳/حمل/۱۹ نېټـــې چـــې ۱۴۴۵/رمضـــان/ المبارک ســـره ســـمون خوري تر ۱۴۰۳/ثور/ ۱۳ او ۱۴۴۵/ شـــوال المکرم /۲۳ پورې د ارزاقو شـــرکت د تدارکاتتو او خرڅلاو آمریت ته چې د مرکزي ثنـــګ ، دربیمه ناحیه کـــې موقعیت لري په فلش دســـت یا حفظه کې د شرطنامې تر لاسه کولو لپـــاره مراجعه وکړي . د آفر تضمین فقط په بانکی ډول د منلو وړ دی .۳۳۸

+++

### اطلاعیه فروش موتر

اســـامی محترم شـــرکت جلالـــی لمتید یک عراده موتر پلیت ۹۹۵۶۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویـــش را بعد از طی مراحل قانونـــی خریـــد و فروش بـــالای عبدالرحمن فرزند عید مرجان بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسســـاتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشـــند الی مدت سه یوم بـــه مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۳۵

++++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شـــرکت عابد جمیل لمتید یک عراده موتـــر پلیت ۵۳۲۵۶- ۲ ش کابل نوع تیوتـــا کرولا غرفه دار جاپانـــی خویش را بعد از طـــی مراحل قانونی خریـــد و فروش بالای شمس احمد فرزند امان الله بفروش رسانیده است.بناء اشـــخاص ادارات و موسساتیکه با عـــراده فوق کدام معامله داشـــته باشـــند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۲۶

+++++

### اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

اســـامی محترم ســـید ســـمیع فرزنـــد محمد حســـن ولدیت سید ســـرور دارنده جواز نمبر (۳۵۱۰) مـــورخ ۱۲/ ۱/ ۱۴۰۰ متصـــدی رهنمـــای معاملات ( ســـمیع متحد ) واقع ( گولایی مهتاب قلعه ) ناحیه ( ۱۳) شاروالی کابل خواهان فســـخ جواز خویش گردیده که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هر گاه ادارات دولتی و اشـــخاص انفرادی بـــالای موصوف ادعـــای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشـــته باشند بعد از نشـــر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومـــی انســـجام ، وزارت عدلیـــه اطـــلاع دهند. ۳۳۴

+++++

### اطلاعیه مفقودی

یک قطعـــه مکتوب گمرکی موتـــر دارای نمبر ۲۸۱۱۴۱ به اسم شـــاه نظر گلزار لمتید مفقود گردیده ازاعتبار ساقط میباشد . ۳۵۵

Shariat Daily

# شریعت

د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوي ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

# Shariat

Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
ویب سایت: WWW.shariatdaily.com

Sunday 14 April 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 426


# په ټول هېواد کې کوچنۍ اختر ډاډمن او خوندي ولمانځل شو



د کورنیو چارو وزارت مسئولین وايي چې په ټول هېواد کې د کوچني اختر درې ورځې د بشپړ امن او خوښۍ په فضا کې نمانځل شوې دي.د کورنیو چارو وزارت ویاند مفتي عبدالمتین قانع په خپله «ایکس» ټولنیزه پاڼه کې لیکلي دي: "د هېواد زړورو امنیتي ځواکونو د الهي نصرت او ولسي همکاریو په مرسته، په ټول هېواد کې د امن او نظم فضا تأمینه کړې وه او د کورنیو چارو وزارت له ټولو سرښندونکو امنیتي ځواکونو څخه د بشپړ امن د تأمین په خاطر مننه او د دوی د مؤثرو هڅو ۳مخ

# تقدیر از تلاش‌هایِ نیروهای امنیتی در تامین امنیت روزهای عید

مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست‌الورزا از تلاش‌های نیروهای امنیتی در زمنیه تأمین امنیت سرتاسری در کشور به‌مناسبت روزهای عید سعید فطر سپاس‌گزاری کرد. معاونیت سیاسی ریاست‌الوزرا در اعلامیه گفته‌است، مؤظفین امنیتی با تطبیق یک پلان جامع، هماهنگی بهتر و با همکاری مردم توانستند زمینه خوب را برای هم‌وطنان ما جهت برگزاری مراسم عید، فراهم سازند.بربنیاد این اعلامیه، رهبری، مجاهدین و منسوبان ادارات امنیتی قابل‌تقدیر هستند و نیازاست که بعد از روزهای عید نیز جهت حفاظت از هم‌وطنان و تأمین امنیت، همانند گذشته تلاش نمایند.دراین اعلامیه آمده‌است که با نیروهای امنیتی‌شان همکار باشند و نیروهای ص۳


سرپرست وزارت معادن و پترولیم:

# باید تمام روند تولید مس در داخل کشورانجام‌شود



سرپرست وزارت معادن و پترولیم در دیدار با رییس شرکت «تویار»چین شرکت قراردادی ‹ مس عینک۲› برانجام تمام روند تولید مس در داخل کشور تأکید کرد.دفتر مطبوعاتی وزارت معادن و پترولیم امروز با نشر این خبر گفته است: شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین دلاور ۳مخ

# تېرو دوو کلونو کې ۸ زره بهرني سیلانیان افغانستان ته راغلي



د اطلاعاتو او کلتور وزارت وايي، په تېرو دوو کلونو کې څه باندې ۸ زره بهرنیو سیلانیانو د هېواد له تاریخي سیمو څخه لیدنه کړې ده. د دغه وزارت مسوولین زیاتوي اړوند بنسټونه هڅه کوي، چې سیلانیانو ۳مخ

# پروان کې د ټرافیکي پېښې له وجې درې کسان مړه او درې نور ټپیان شوي



د پروان د ټرافیکو مدیریت مسوولان وايي چې دغه ولایت کې د یوې ټرافیکي پېښې له کبله درې کسان مړه او درې نور ټپیان شوي دي.یاده پېښه، جمعه، د وری ۲۴مه د دغه ولایت مرکز چاریکار ښار اړوند سرړباط سیمه کې د یوې سراچه او بارورونکي موټر د ټکر له امله رامنځته شوې.د پروان د ټرافیکو مدیریت د پېښو د ارزونې امر عبدالحمید محمدي سلام‌وطندار ته وایي چې پېښه کې درې نارینه‌وو خپل ژوند له لاسه ورکړی او درې نور ټپیان شوي دي.د محمدي په وینا، پېښه کې مړه شوي او ټپیان د ننګرهار او پروان ولایتونو اوسېدونکي دي.د پروان د ټرافیکو مدیریت د پېښو د ارزونې امر عبدالحمید محمدي همداراز زیاته کړه چې یاده پېښه د سراچې موټر چلوونکي د بې‌احتیاطۍ له امله رامنځته شوې.دغه پېښه ۳مخ


# هېواد کې د تور او سپین زېړي ناروغانو شمېر ډېر شوی

د عامې روغتیا وزارت شمېرې ښيي چې په ۱۴۰۲ کال کې د ورم کال پر تله په افغانستان کې د تور او سپین زیړي مثبتې پېښې دوه برابره شوي دي. د دې وزارت شمېرې ښيي تېر کال د یادې ناروغۍ څه د پاسه ۱۷ نیم زره پېښې کره شوي دي. د عامې روغتیا وزارت ویاند شرافت زمان وايي تېر ۱۴۰۲ کال کې افغانستان کې د تور او سپین زیړي ۱۷ زره او ۵۳۲ مثبتې پېښې ثبت شوي دي. له دې ډلې ډېرې یعنې ۱۳ زره او ۴۵۹ یې د تور زیړي او پاتې نورې یې د سپین زیړي پېښې دي. د نومورې په وینا په ۱۴۰۱ کال کې د تور او سپین زیړي اته زره او ۳۴۳ مثبتې پېښې ثبت شوې وې چې شپږ زره او ۲۰۸ یې د تور زیړي او پاتې نورې یې د سپین زیړي پېښې دي.

# هوايي ځواک، یو شمېر هېوادوال له مرګه بچ کړي

د ملي دفاع وزارت خبر ورکړی، چې کندهار هوايي ځواک لوا منسوبینو روزګان کې د سېلاب له امله یو تن ټپي هېوادوال ژغورلی او د ښې درملنې په موخه یې کندهار ولایت ته انتقال کړی دی.وزارت زیاته کړې، چې هوايي ځواک منسوبینو همدارنګه د کندهار شاه ولي کوټ ولسوالۍ د دهلې بند په سیمه کې هم د چورلکې په مرسته درې تنه هېوادوال ژغورلي دي.
د یادونې وړ ده، چې له تېرې ورځې راهیسې د هېواد په ټولو ولایتونو کې د سختو اورښتونو څپه پیل شوې، چې له کبله یې د هېواد بېلابېلو سیمو کې سېلابونه راوتلي او خلکو ته یې مالي زیانونه هم اړولي

# ۴۲۰ بې وزلو ښځو ته د کار زمینه برابره شوه



د کندز دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس الحاج مولوي امان الله حسن د کندز په ولایت کې د لاس په لاس مؤسسې له چارواکو سره وکتل.په دې کتنه کې، چې د لاس په لاس مؤسسې د ۱۴۰۳ لمریز کال د پلان شویو پروګرامونو د همغږۍ په موخه جوړه شوې وه، لومړی د کندز ولایت د کرنې رییس د یادې ۳مخ

## رویدادهای خارجی

# پاکستان قیمتی‌ترین کشور برای زندگی در آسیا است



بانک توسعه آسیایی در یک گزارش تازه اعلام کرده که پاکستان قیمتی‌ترین کشور برای زندگی در آسیا است. پیش از این، پاکستان گران‌ترین کشور برای زندگی در سطح جنوب آسیا بود. طبق گزارش، نرخ تورم در پاکستان ۲۵ درصد بوده و نرخ رشد اقتصادی ۱.۹ درصد است که کمترین نرخ رشد اقتصادی پس از میانمار، آذربایجان و نائورو می‌باشد.


هندي چارواکي:

# هندي اتباع دې ایران او اسرائیلو ته له سفر ډډه وکړي




د ایران او اسرائیلو تر منځ د کړکېچ له زیاتېدو وروسته، د هند د بهرنیو چارو وزارت خپلو اتباعو ته لارښوونه کړې چې تر دویمې خبرتیا پورې دې دواړو هېوادونو ته سفر نه کوي. هندي چارواکو په دغو دوو هیوادونو کې له خپلو ټولو اتباعو غوښتي چې پر ځانونو دې پام کوي او له اړوندو سفارتونو سره دې په اړیکه کې واوسي. تر دې مخکې فرانسې هم خپلو اتباعو ته ویلي وو چې ایران، اسرائیل، لبنان او فلسطین ته دې سفر نه کوي. ورته مهال ویل شوي چې فرانسې له ایرانه د خپلو ډیپلوماتانو کورنۍ ستنې کړې.د ویلو ده، د ایران او اسرائیلو ترمنځ کړکېچ هغه مهال زیات شو چې د سوریې په پلازمېنه دمشق کې د ایران پر کونسلګرۍ په برید کې د سپاه پاسداران لږ‌ترلږه اوه لوړپوړي افسران ووژل شول.

# د صهیونستانو اووه زغروال ټانکونه د اور خوراک شول



فلسطیني مجاهدینو په سم سنکین او خان یونس کې تر ۵۰ زیات اسراییلي عسکر په جلا جلا بریدو کې وژلي او ۷ زغروال ټانکونه یې د اور خوراک کړل. ویل کیږي چې په هر ټانک کې تر ۵ څخه تر ۷ تنه اسرایلي عسکر سپاره وو.صهیونستو چینلونو منلې چې د خان یونس په ورمې ورځې جګړه کې د دوی ۴ مهم قومندانان وژل شوي.

## توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!